د ارادی ملی ورځپانه ۲۰۱۰/۰۳/۱۰م
ادیت: عبدالرحمن وردک

# روانه افغان جګړه بل رنګ اخلي،

## د امریکا او ایران د ګټو تقابل!

تمه خو دا وه چې وړمه ورځ د ایران ولسمشر احمدي نژاد افغانستان ته راغلي واي، خو ناڅاپه د امریکا د دفاع وزیر رابرټ ګیټس افغانستان ته راغي. ګیټس ایران ته ګوتڅنډنه وکړه چې که د وراني جګړې په مخ کې خنډ پیدا کړي، کومه چې څه موده وروسته په کندهار ولایت کې پیلیدونکې ده، نو ایران به د امریکا له سخت غبرګون سره مخ شي. تر دې وړاندې څو ځله امریکایي مقاماتو ایران په دې تورن کړي چې له افغان وسله والو مخالفانو سره وسلوالي مرستې کوي، دلیل یې دادي: په هلمند او نورو جنوبي ولایتونو کې ډیر ځله له طالب وسله والو سره ایرانی ساخته وسله ختلې ده، په ورته وخت کې، کله کله افغان مقاماتو هم دغه خبره زمزمه کړې چې ایران افغان وسله وال مخالفان ددولت پر ضد هڅوي.
دغه شان، وړمه ورځ په افغانستان کې د امریکایي پوځونو عمومي قوماندان جنرال ستینلي مک کریسټل هم له یوه عربي چینل سره په مرکه کې ویلي: ایران له افغان وسله والو مخالفینو سره محدوده مرسته کوي. افغانستان ته د ګیټس له راتګ سره سم، د احمدي نژاد سفر یو څه وځنډید، چې ښایي د رواني اونۍ په کومه ورځ هیواد ته راشي.
د افغانستان له ترییبون څخه خو امریکا خپل راتلونکي دښمن ایران ته ګوتڅنډنه وکړه، غبرګون به یې هله په ګوته شي چې احمدي نژاد هم د افغانستان له ترییبون څخه ددغه څرګندونو پر وړاندې خپل عکس العمل وښیي. او ښایي همداسي وهم شي. له دې سفر سره جوخت، د غربي مقاماتو تورونه هم ورځ تر بلې په ایران زیاتیږي. ځینې شنونکي په دې اند دي، ایران هیڅکله نه غواړي چې د هلمند د کجکي بند ورغول شي او ورانه جګړه تر ډیره د ایران د همدغه ګټو لپاره له امریکا سره په هلمند کې غځ کوي.
همدغه علت کیداي شي چې ګیټس ورته اشاره وکړه چې ایران باید په کندهار کې د جګړې په مخ کې خنډ جوړ نه کړي. شنونکي دا هم وایي چې ایران هیڅکله په جنوب کې د هلمند او سلما او نورو ورته شان بندونو د رغونې پر وړاندې کرار نه کښیني. تر دې وړاندې داسي اوازې وې چې ایران افغان وسله وال په وسله سمبالوي، چې ډیر ځله ورسره ایرانی ساخت وسله ترلاسه شوې ده. دغه شان، کلونه وړاندې اوازې شوې (نارسمي)چې ملادادالله غوښتل ایران ته د مرستو د جلبولو لپاره یو سفر ولري خو ژوند ورسره یاري ونه کړه. دغه شان، د نورو جګړوړو طالبانو په اړه اوازې وې چې ایران ته یې سفرونه کړي وو، لکه ملاعبیدالله او ملااخترمحمدعثماني. دغه شان، سږ کال تر کومه چې مالومات شته، په ژمي کې ټول طالب اورپکي او ټیټ رتبه قوماندانان د تیر په خلاف، په ځاي ددې چې پاکستان او یا قبایلو ته پناه یوسي، په خلاص مټ ایران ته واوښتل او له دې وروسته به بیرته د جګړې په تکل افغانستان ته راځي، دا په خپله وسله والو طالبانو ته د ایران د شنو څراغونو د لګیدو په مانا دي.
افغان جګړه او روانه لوبه بل ډول رنګ اخلي، او په نړیواله کچه د ایران او امریکا د هستوي ستغو سپورو محصول بللي شو. سږ کال ښایي نارامی نورې هم توندې شي. که امریکا له ایران سره په نړیواله کچه په هستوي معاملو نور هم سره ښکر په ښکر شي، د افغان جګړې لمن به هم ورسره پراخه او هم به یې بادونه پسې توند شي او طالبانو به


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

سيمه کي يو بل د سروزرو حامي پيدا کړي وي چي د امريکا لپاره به لوي سردرد وزيږوي. طالبانو ته د ايران شنه ځراغونه په نورو برخو کي هم له ورايه ښکاري او لمر په دوه ګوتو نه پټيږي.

اميد دادي چي افغان دولت بايد ځان په دې اړه جدي مسوول وبولي او له خپل ځان نه د پخوا په شان د دوه قدرتونو د معاملو ډګر جوړ نه کړي، او وخت له مخکي يي چاره وکړي، کنه د افغان ولس د بدبختۍ نوې ځپې په ډير مرګوني بڼه بيا په رااالوتو ښکاري. او هيله ده چي ددغه پروپاګند لپاره د ستيج په شان ترې ځوک استفاده ونه کړي، حتي احمدي نژاد او نور ياران يي هم.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ